مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: سراج الحق ببرک زی خُدران ۲۰۲۴/۰۶/۱۸

افغانستان د نړۍ هپیانو جنت او کابل د هپي ملنګانو مکه

(لومړي برخه)

د هپیانو افسانوي مسیر د افغان محاصر تاریخ یو هېر شوي څېرکی:

د هپیزم فلسفه او د هپي انقلابي غورځنګ پیدایښت د شلمي پیړۍ یوه خورا مهمه کلتوري، سیاسي او ټولنیزه ښکارنده وه. په شپیتمو او اوویایمو لسیزو کي افغانستان د ټولنې نړۍ د هپیانو یو ښکلی زرغون جنت هیواد و. د څلوېشت کلني جګړې دمخه افغانستان د هپي افسانوي مسیر په اوږده لار کي یو تر ټولو ښکلی جذاب طبیعي هیواد او پلازمینه کابل د ټولې نړۍ د هپي ملنګانو د خوبونو سپیڅلي مکه بلل کیدل.

که څوک نن په 2024 کال کي په خپلو فکرونو کي یو اروپایي تنکی ځوان تصور کړئ، چې هغه ولي له لندن څخه کابل ته د ځمکې له لارې د یوه بیک یا کڅوړې سره په اوټوستاپ کي د تګ پرېکړه کوي. همدارنګه د زرګونو نورو اروپایي ځوانانو سفرونه تصور وکړئ. دا هغه څه دي، چې ښایي تاسو ته نن لیونتوب ښکاره شي. خو په 1969 کلونو کي په رېښتیا او حیرانتیا سره داسي یو څه د هپي په افسانوي مسیر کي پیښ شوي دي. د نړۍ په سیاسي کولتوري ادبیاتو کي، د نړۍ په تاریخي سفرې لارښود کتابونو کي او د نړیوالو رسنیو په سر لیکونو کي او د هپیانو په اړه لیکنو او په څېړنو کي افغانستان د هپیانو افسانوي مسیر یا لار کي د "The Hippie Trail„ په نامه یو مهم مرکزي رول لوبولي دی.

په لنډه توګه د هپیي فلسفي مانا د ژوند مانا په لټون پسي ګرځیدل دي. هپي فلسفي د امریکایي مصرف کونکي ټولنې ستایل د امریکایي سوکاله ژوند مانا وي او ایډیالونه تر پوښتنې لاندې راوستل، لکه دنده، واده کول، د یوې کورنۍ ښسټ اینودل، موټر اخیستل، د ښار د باندې کور او یوه باغچه پالل او داسې نور اړین شیان. ایا په ریښتیني مانا سره دا شیان یوازې د ژوند مانا افاده کولې شي.؟

د هپیانو په نظریه، بیانونو او ایډیالونو کي د نوي نسل د ژوند مانا، د پیسو، مسلکي وړتیاوې، بېځایه مصارف او د ټولنیزو کنوانسیونو یا ټولنیزو ټرونو په پرتله لا ډېرې نورې مانا وې پرتې دي.

ډېرۍ امریکایانو د لیونتوب تر پولې پورې د ویتنام جګړې څخه خپله نارضایتي او ناخوښي څرګنده کړې وه. هغمهال شاوخوا 500.000 امریکایي ځوانان د ویتنام جګړې ته جلب شوي وو، چې یوه ستره برخه د مکلفیت دورې ځوانانو تشکیلوله. اټکل 50.000 امریکایي ځوانان د عسکري خدمت څخه د ویتنام جګړې په ضد د اعتراض په توګه کانادا ته تښتیدلي وو. په ټولیزه توګه د ویتنام جګړې شاوخوا 58.000 امریکایانو ته مرګ ژوبله اړولې ده. د ویتنام جګړې او د جګړې سره تړلې ډېرې نورې وژنې د هپیي غورځنګ پیدایښت او په راڅرګندیدو کي خورا مهم رول لوبولې دی. ډېرې امریکایي ځوانانو د جګړې او د بې ماناوو وژنو په وړاندې لاریونونه ترسره کړل. له دې املې په میلیونونه ځوان امریکایان د هپیي له غورځنګ سره یو ځای شول او ټولې نړۍ ته د هپیي غورځنګ افکار او ایډیالونه ورخپاره کړل.

د 1950 او 1970 لسیزو په منځ کي اروپایي، امریکایي او استرالیایي ځوانان په ډله ییز ډول د نړۍ تر ټولو لیرې هیوادونو او د نړۍ ګوابنمنو لرو پرتو سیمو ته سفرونه پیل کړل.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

هپيپانو غوښتل لومړی خپل د امريکايي ژوند روزنيزه ټولنيزه ټولګی يا طبقه پرېږدي او ترينه ووځي. په کومه ټولنه کي چې دوی لوي شوي او ډيره مينه ورسره محسوسوله او د خپلو مېندو پلرونو لوري ورته امريکايي ارزښتونه ښوولي شوي وو. هپيپانو د خپلې فلسفې موخې د يوه نوي سوله ييز انساني ژوند بڼې ته د رسيدو په موخه تعقيبول، څو ټولنيز عدالت، مساوات او د دوی ازادۍ ته لومړيتوب ورکړل شي. هپيپان په امريکا کي د توکمې تبعيضي چلند ضد دريځ غوره کړ. برسېره پردي د دوی افکار، اخلاقيات او احساسات د مېنې، ملګرتيا او د خوښۍ، خوشالیو په معنوي ارزښتونو باندې ولاړول.



د کاليفورنيا ايالت د هغې وخت ګورنر يا والي په امريکا کي هپيپان او هيپي غورځنګ په امريکايي ټولنه کي د ټولو بدو ناوړو شيانو د اصلي ريښې په توګه اعلان کړل. د امريکا محافظه کاره ټولنې په حلقو کي د هيپي ګلالي ماشومان د بې روزګاره، تنبلو، سستو عنصرو، ګډوډو، ناپاکو او خبرنو عناصرو په توګه پېژندل شوي وو. هپيپان اکثراً د امريکا په سياسي بحثونو او دريځونو کي د انارشيتي، سوسياليستي او کمونيستي ايډيالونو په فکرونو کي ککړ او د دې ايزمونه په منلو باندې تورنيدل. له دې امله هم په امريکا کي د هپيپانو فلسفې انګېزو، فکرونو او ايديالونه ته لږ پاملرنه شوې ده. د دې ټولو تورونو سربيره هپيپان په ټوله نړۍ کي د يوه عجيب غريب محبوبيت څخه برخمن شول او د يوې نوی جذبې، شور او ټولنيز شورش په توګه تلقي کيدل.

په حقيقت کي هغمهال د هيپي فلسفه د هيپي غورځنګ په څېر د لويديځي نړۍ د ټولنيزو نورمونو او محدويتونو پر ضد يو ډول ټولنيز سياسي بغاوت يا شورشي غبرګون و. هيپي ځوانان د خپلې غربي ټولنې سختګيره نورمونو، دودونو او له ډيرو کولتوري ارزښتونو، قيوداتو، محدويتونو او د ماشيني ګرځندي ژوند څخه په تنګ راغلي وو. دوی د يو بديل متقابل فرعي کولتور يا ضد کولتور د رامنځته کولو په لټه کي شول. دوی د خپل غربي کولتور په ضد شول، کوم چې پر دوی باندې د خپلو پلرونو او نيکو له لوري تحميل شوي و. د هپيپانو مېندې او پلرونو، نيويارک، پاريس، لندن او روم ته په الوتکو کي الوتنې کولې، خو خپله هپيپان کابل، ډهلي او کتمندو ته په خپلو زړو فلکسواګن ډوله بسونو کي د ځمکې له لارې په ارزانه سفرونه کول. کله چې ځوانو هپيپانو د لويديځ څخه د ختيځ په لور له خپلو کورونو څخه راوتل، د خپلو مېندو او پلرونو سره د خدای په اماني پرمهال د ځينو هپيپانو مېندې به ژړل او پلرونو به سرونه ټکول، ښورول او ويل به يې: تاسو دومره ليرې او د دومره مودې لپاره چېرې روان ياست .؟ هپيپانو به ويل: يا به زه هېڅکله بيرته خپل کور ته رانشم او يا به په بشپړ ډول يو بدل شوي سړی راشم.

اټکل هر کال د 70 څخه تر 100 زرو پورې هيپي ځوانانو د لويديځې اروپا له ټولو هيوادونو څخه جنوبي اسيا ته د ځمکې له لارې په دې اوږده تاريخي لار کي په سفر روان ول. اکثريت هپيپان د افغانستان هرات، کندهار، باميان ولايتونواو له پلازمينې کابل څخه ليدنې کولې او په دې ښارونو کي تر ډېره مودې پورې تمديل يا اوسيدل. د احصائيو له مخې په 1971 کال کي افغان سرحدی چارواکو يوازې د کوشني هيواد سويس 2,200 وګړو ته د وېزې اخيستلو ورسته افغانستان ته د ننوتلو اجازه ورکړل شوې.

سويلي اسيا ته د تګ راتګ لارې په مسير کي کابل ښار د هپيپانو د راتوليدو يو مهم منزل او يو مهم مشهور مرکزي ښار بلل کيدو او د نړيوال توريستي سياحتي ټمځای په توګه کاريده. ټولو هپيپانو دا حقيقت منلې و، چې د توركيې تر استانبول ښاره، د مراکش کيزربلنکا له ښاره او حتی د ايران پلازمېنې تهران له ښاره اروپايي ځوانو متمدنو سيلانيانو هپيپانو ته د افغانستان کابل ښار يو تر ټولو ښکلي، جذاب، محبوب، ارام او مصؤن ښار و. د افغانستان ښکلي طبيعي چاپېريال او د لرغوني کولتور سربيره دلته په ډېره اسانه او ارزانه توګه مخدره توکي د نړۍ بهترين طبيعي چرس د تور افغان په نامه اپين هم شتون درلود.

هپيپانو لږ تر لږه په څو اوونيو کي له لندن، پاريس او برلين څخه په 10000-15000 کيلو متره اوږده لاره باندې مزل کاوه. د هپيپي افسانوي لار د لندن، استانبول، تهران، کندهار، کابل او خيبر درې له لياري تر ډهلي، ګوا او کټمندو ښارونو پورې د (Kabul Hippie -Highway) په نامه لويه لار کي اروپايي ګلالي ماشومانو اسيا ته تګ راتګ کاوه. ځينې يې څو څو ځلي د هپيپانو پر افسانوي لار يا مسير باندې تللي او سفرونه کړي دي.

د سفر اسطوري يا د افسانوي سفرونو اصلي انګېزې او موخې دا وي، هر څوک چې سفر کوي، هغه غواړي چې نوي په زړه پورې څه وويني، نوی تجربې زده کړي، د ښځې په توګه په طبيعت کي د لويو کشفي څېرنيزو طبيعي

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

لرغونو ځایونو څخه لیدل او د نړۍ سترو افسانوي تاریخي سفرونو په مسبر کې لکه د مارکوپولو، کولمبوس او نورو اتلانو پر پل پل ږدل او تګ کول.
هیپي متمدنو سیلانیانو افغانستان ته یوازې د چرسو ځکولو یا د مخدره توکو کارولو لپاره سفرونه نه کول. روښاندو پوهنتوني، با کولتوره هیپیانو غوښتل د نړۍ بام ته، د پامیرغرونو او د هندوکښ غرونو سرونو ته وخیږي. د بودا لرغوني مجسمې وویني، د افغانانو لرغوني کولتور وپیژني. هیپیانو په خپل هیپي کولتور او ستایل کې د افغاني کولتور، افغاني رنګونه، افغاني لاسي صنایعي، افغاني جامې، افغاني ملي لباسونه د کوچیانو لباسونه، افغاني غالیو، ټغرو، لمځیو شامل کړل. افغانستان د دودیږو لاسي صنایعو او جامو تولید بډایه دود لري. د افغانانو د وړیو پوستېن په نړۍ کې په ډېرو لوکسو مډرنو ګرانبیه پلورنځیو په ویټرونونو کې ننداري ته کېښودل شوي. افغاني پوستېن د نړۍ د فیشنشو په معتبرو صالونونو کې د خپل عالي ارزښت او ستایل له امله ننداري ته وړاندې شوي دی او د نړۍ مشهورو هنرمندانو او د راک او پاپ موزیک وتلو سندرغاړو لخوا اغوستل کیده. لکه په 1960 کال کې انګریزي د بیټلز راک باند غړو هر یو جان لینن، جورج هریسن او رینګوستار، وتلي ګیتاریست جیمي هینډریکس، د پاپ موزیک وتلي هنرمند ډیویډ بوي، کولډ سندر غاړۍ جیم ماریسن او داسي نورو لسګونو امریکایي او اروپایي هنرمندانو او سندرغاړو لخوا اغوستل شوي دی. ځکه دا افغاني پوستېن په نړۍ د هیپیانو د مودې، فیشن، ستایل او د انقلابي غورځنګ د بغاوت یو سمبول یا یو سمبولیک کولډ کوټ و.

د هیپیرم فلسفه او د هیپي خوځښت د پیدایښت انګیزې

د 1960 کال لسیزې په لومړیو کې د هیپي خوځښت د امریکې په سانفرانسیسکو ښار کې په لومړۍ ځل راڅرګند شو. د سانفرانسیسکو هایټ ایشبري (Haight -Ashbury) سیمه کې د هیپي غورځنګ هستي پیدایښت ځای یا د زیږون ځای بلل کیږي. په پیل کې د هیپیي خوځښت کومه سیاسي انګیزه نه درلوده، بلکې د غربي نړۍ د ناخوښو ټولنیزو ترونو، قیدواتو، محدویتونو او کنوانسیونو څخه د ټینګتي یوه هڅه وه. په اروپایي ځوانانو کې د دویمې نړیوالې جګړې اغیزو پر ضد د جنګ ضد حساسات شتون درلود.
د اروپایي هیپیانو بغاوت بل لامل په اروپایي محافظه کاره کورنیو کې د دودیزو رولونو او مراسمو ادا کولو په وړاندې د ځوانانو یو رد غبرګون و، د کار فشار راکمول په وړاندې یو غبرګون و او د ماټریالیستي، کیپټالیستي او د ماشیني ژوند سیستم د فشارونو څخه د ځان خلاصون په مانا و. هممهاله د یوې ګډې سوله ییز مینه ناکه ژوندون نوې بڼې ته د لاسرسي په موخه هڅې وې. دوی غوښتل د غربي ټولنې د کلاسیکي سلسلي مراتبي کړۍ یا ځنځیرونه مات کړي. هیپي ځوانان په لومړۍ سر کې د پانګونې سیستم پر وړاندې ودریدل. امریکایي هیپیانو د پخوا نه د ویتنام جګړې پر ضد خپل رد دریځ او مخالفت غوره کړي و. هیپیانو د امریکایي ټولنې مدني او بورژوازي ارزښتونه هم رد کول.
د لویدیځ هیپي ملنګانو په ختیځ کې یا د اسیا د ځمکې پر مخ د لوکس ژوند، په لوکسو ځایونو کې د اوسیدلو او د لوکس ژوند کولو په لټه کې نه وراوتلې. په دوی کې چې که څوک شتمن، بډایه و، که نه و. د دوی موخه دا وه، چې پرته له ټولنیزو قیوداتو شرطونو یو عادي نورمال ازاد سوله ییز مینه ناکه ګډ ژوند وکړي. هیپیانو اکثراً د سمبه ییزو خلکو په څیر کالي اغوستل او د سمبه ییزو خلکو په څیر عادی ګرځیدل او نورمال ژوند کول خوښ و. هیپیانو د خپل سفرونو په لاره کې اکثراً د ځایي خلکو جامې او ستایلونه غوره کول او خوښول. د بېلګې په توګه د پښتنو په قبایلي سیمو کې اکثره پښتانه ځوانان ګلان په خپلو خولېو یا ویښتانو کې ټومبي. هیپیانو هم اکثراً ګلان په ویښتانو کې د ښکلا لپاره ایښودل. هیپیان د افغانانو په څیر اکثره لوڅې پښې ګرځیدل، اوږده ویښتان او اوږدې ګیرې درلودې. هیپیانو د خلکو له دود دستور سره ځان عیارولو او د نړۍ په نورو برخو کې د دودیزه سیلانیانو په پرتله هیپیانو د ځایي خلکو سره ډیره مینه، ناسته پاسته او ګډ وخت تیرولو. په نړۍ کې سفرونه د زده کړې، زغم، تفاهم او درناوي لپاره فوقعلاده په زړه پورې بڼې لارې چارې دي.
دا یوه واضع ښکاره خبره وه، چې دې سیمو ته د تګ یو لامل د طبیعي ارزانه چرس موندل او څکول و. (Very cheap, very good) په افغانستان کې د نړۍ لومړۍ درجه اعلی چرس کرل کیدل او تولید کیدل، ځینې افغانان اوس هم چرس کري، څکوي او پلوري.
هیپیان ماټریالیرم ردوي او د جګړې او د تاوتریخوالي ضد یو خوځښت و. هیپیانو د یوې ټولنې لپاره مبارزه کوله، چې هغه په سوله، مینه او انفرادي خپلواکي باندې ولاړه وي. دوی مخدره توکي هم کارول، تر څو خپل شعور ته په کې لا نوره وده او پراختیا ورکړي او د روحاني ژوند تجربو کې خپل احساس مجسم کړي یا وموميي. هیپیانو اکثراً

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

خپلې ګران بيه جامې هم خيرنېولې يا چټلې کولې او ټوټې ټوټې ګنډلې جامې اغوستلې. دا د دوی لخوا د خپلې لويديځې مډرنې د بې ځايه مصرفونکې ټولنې او د مودرنېزم په وړاندې د لويديځ بې مانا ټولنيزو جوړښتونو په وړاندې يو سېمبولېک غبرګون و.

د هيپي افسانوي مسير اوږده لار

دا مهال په نړۍ کې د انټرنيټ اسانتياوې شتون نه درلودې. هيپيانو د سفري دفترونو د لارښوونو پرته په ارزانه توګه د بس ټکټونه ترلاسه کول. دوی د ګرځندوي يا د سيلانيانو ځانګړو رسنيو او د ميوزيک مجلو له لارې د هيپي سفر مسير په اړه اعلانونه، مالومات او خبرتياوې ترلاسه کولې. دوی د نړۍ له نورو هيپي سيلانيانو سره د اړيکو يوه فعاله شبکه جوړه کړې وه. په داسې حال کې چې دوی په بسونو، ريل ګاډو او د لاس جګولو يا اوټوسټاپ له لارې په ارزانه يا مفت سفرونه کول. دوی اکثراً په خپلو زړو موټرو، فلکسواګون ډوله بسونو او موټر سېکلونو کې بهرنيو هيوادونو ته هم سفرونه کول. ډيرې هيپيان هيڅکله بيرته خپلو لويديځو هيوادونو ته راستانه نشول.

مخکې له دې چې هوا سړه شي، هيپيانو له لندن څخه تر ډيلي پورې په 45 ډالرو يو بس کرايه کولو او د لږ نورو اضافي لګښت پرې کولو سره د تورکي، لبنان، کشمير، ايران او افغانستان له لارې د هند نيمي وچې پورې د ښکلي پوستکارتي لارې په اوږدو کې په هوټلونو کې د شپې تيرولو لپاره پاتې کيدل. د هيپي لارې په اوږدو کې په رستورانټونو، کافي خانو يا چايخانو کې د چرسو او بنګو څکولو لپاره اسانتياوې چمتو او برابرې شوې وې. دغه لويديځوالو سيلانيان د هيپيانو په نامه يادېدل. اکثراً ځوان اروپايان، د شمالي امريکا ځوان امريکايان، د استراليا ځوان استراليايان او ان جاپانيانو د يو بديل سياحت په لټه کې له خپلو کورونو او ښارونو څخه د افغانستان لېدلو او زيارت کولو په هيله راوتلي وو.

په 1957 کال کې د هنديامين بس ترانسپورتي شرکت ښايي تر ټولو لومړني ترانسپورتي شرکت و، چې د لندن څخه بمبۍ ته د هيپيانو په انتقالو کې ښه ترانسپورتي خدمات يا سرويس وړاندې کولو.

هغمهال د هيپيانو افسانوي مسير ډير تمځايونه درلودل، چې نن ورځ د هيپي کولتور سره په مستقيم يا غير مستقيم ډول اړيکي لري. د هيپي لار د لندن، برلين، پاريس، برن، استانبول، تهران، کابل څخه نيولې، بيا د هند تر ډهلي، اګرا او ګواه ښارونو پورې، د بنګله ديرش، ټايلينډ، شري لانکا او د نيپال تر کتمنډو ښارونو پورې ګرځندوي يا توريستي غځيدلي لارې وې. که څه هم د اروپايي هيپيانو د سفر نورې بېلا بېلې لارې هم وې، خو ډير مسافرين په ځانګړي توګه د متحده ايالاتو سيلانيانو په اروپا کې د هسپانيې ايښه ښار ته تلل او له دې ځايه خپل سفرونه پيلول. دوی د شمالي افريقا هيوادونو ان تر لبنان پورې سفرونه کول. دوی د هسپانيې څخه د ترکيې تر استانبول ښاره پورې تلل، بيا له دې ځايه مستقيماً ايران، افغانستان، هند او سويلي اسيا هيوادونو ته سفرونه کول. امريکايي، استراليايي او اروپايي هيپيانو ته د ځمکې پرمخ افغانستان يو ښکلي سوله ييز جنت او کابل د نړۍ هيپي ملنکانو يوه سپېڅلې مکه وه. په افغانستان کې په ځانګړې توګه د کابل لرغوني ښار د هيپي سيلانيانو د خوبونو، فنټزيو او تصوري خيالونو په نړۍ کې د مکې په څېر يو سپېڅلي مصئون ښار و. کابل د هيپي سفرونو په مسير کې د تمېدلو او اوسېدلو لپاره د يوه مهم مرکزي ښار په توګه ځان تثبيت او ثابت کړي و. ترکيه د نړۍ هيپيانو د تجمع هيواد په توګه، ايران او پاکستان د هيپيانو د ټرانزيت هيوادونه توګه کاريدل، هيپيان په دې دريو هيوادونو کې ډېر نه پاتېکدل.

افغانستان په مکرر ډول د هيپيي سفرونو په مسير کې او د هيپيانو تاريخي سفرونو په اوږده لار او د نړۍ سفري لارښود کتابونو کې يو ارام سوله ييز او ميلمه پال هيواد په توګه ياد شوي دی. د نړۍ سيلانيانو ته کابل ښار تر دې حده يو په زړه پورې يو لرغوني اسيايي مډرن او جذاب ښار و. اکثرو لويديځوالو ليکوالو او د نړۍ سفري لارښود کتاب ليونلي پلنيټ (Lonely Planet) لخوا چاپ شوي دی، په دغه لارښود مالوماتي کتاب کې د هيپي سفرونه په اړه ليکنې شوي دي. لونلي پلنيټ لارښود سفري کتاب د نړۍ خلک او سيلانيان سره يو ځای کوي، خلکو ته ښيي چې نړۍ څنګه انسان ته الهام ښونکي اغېزې او تجربې وړاندې کوي، سفرونه زموږ ژوند څنګه بډايه کوي او زموږ ژوند ته څنګه د خوشالۍ رنګ ورکوي. لونلي پلنيټ سفري لارښود د يوه هيواد، ولسونو، کولتور او تاريخ په اړه په صادقانه توګه مالومات او سم راپورونه وړاندې کوي او شاليدونه د تاريخ په بنسټ تشريح کوي.

په 1973 کال کې د دې ټولنې مشر ټونی ويلر په لندن کې ليکي، چې کابل خپل کرکتر ورو ورو له لاسه ورکوي، د دې ګواښ شته، چې کابل د نړۍ د ګرځندويانو يا د توريستانو په نړيوال مرکزي جال باندې بدل شي.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

په 1972 کال کې د لیونلي پلنټ سفري لارښود کتاب لیکوال ټوني او میرمن مورین ویلر افغانستان ته په خپل موتر کې سفر کوي. دوی په کابل کې د یوې مودې تمیدو ورسته خپل موټر (Mini Countrymann) پلوري او بیا د استرالیا په لور خپل سفر ته ادامه کوي.
هغمهال ډیر پلانونه نه ول، وړیا سفرونه او ارزانه مخدره توکي ول، بس ساده بې خیاله، درویش یا ملنګ مذاجه صوفي اروپایي ځوانان ول، چې په خپلو فلولکسواګونو بسونو باندې رنګه ستیکرونه لګولي ول، چا به پردېو مسافرو موټرو ته لاسونه جګول، څو له یوه بنساره بل بنار ته ارزانه ځان ورسوي.
د 1950 لسیزې راهېسې تر 1970 کلونو پورې هپیانو په افغانستان کې تر ډیره بریده ځان مصئون احساسولو او ډېر ارزانه خوندور سفرونه کول.
د یادونې وړ ده، چې د هپیانو ژوند او ایډیالونه ته په کتو سره په اسلامي ټولنه کې صوفیان، درویشان او ملنګان دا د اسلامي نړۍ هپیان دي.

افغانستان د لویدیځوالو هپیانو یو بنکلی جنت

افغانستان د هپي سفرونو په مسیر کې او د یورایشیا لارې په اوږدو کې د نړیوال توریزم، د ګرځندوي سیاحت او د هپیانو د راټولیدنې لپاره یو مهم توریستي مرکز ګرځیدلی و. اروپایي هپیان مخکې له دې چې هندوستان یا سویلي اسیا ته لاړ شي. دوی خامخا د هرات، کندهار، بامیان، کابل او پېښور بنارونو څخه لیدنې کولې. د کابل نوی بنار د مرغانو په کوڅه کې هوټلونه، بېلا بېل د لاسي صنایعو بازارونه، د هپیانو د ناستې پاستې لپاره ځانګړي ځایونه، د افغاني انتیکو ګانو ډولونه، لرغونو اثار، د افغاني لاسي صنایعو لوړتیا او ورتیا لوړول، د افغانستان ملي موزیم لیدنه، د امیر بند او په بامیانو کې د بودا نامتو مجسمو د نړۍ لرغونپوهانو او سیلانیانو پام ځان ته رااړولی وو.
د 1950 مې لسیزې له نیمایي څخه تر 1970 مې لسیزې ورستیو کلونو پورې افغانستان د اروپایي سیلانیانو د سیاحت لپاره یو ډېر بنکلي طبیعت وړاندې کولو او افغانستان د سیلانیانو د لیدو وړ خورا مهم ځای و. په پلازمېنه کابل او د هیواد په نورو بنارونو کې بیشمېرو هوټلونو او د سیلانیانو په ګرځندوي یا افغان تور دفترونو کې په پراخ کچ بېلابېل لویدیځوال هپیان لیدل کیدل.
د تورکیې په استانبول بنار کې د پوډین رستورانټ او پلورنځی، د ایران په تهران بنار کې د امیر کبیر هوټل او په کابل بنار کې د مرغانو په سړک کې د یوه جرمن وګړي د زیګي په نامه هوټل کې اروپایانو ته په ځانګړي توګه جرمنیاتو ته اروپایي خواړه پخیدل او د مصطفی هوټلونه د هپیانو د تجمو، میلمستونونه او اوسیدولو ځایونه ول.
په 1972 کال کابل د هپیانو د لویې لارې په ستر مرکز بدل شوي و، هغمهال په کابل کې یو کیلو چرس په 123 المانې مارک باندې پلورل کیدل.
په شپېتمو او اوویامو کلونو کې افغانستان د ټولې نړۍ د هپیانو لپاره یو کوشنی سوله ییز جنت ګڼل کیده. دا مهال په کابل کې حکومتي امنیت، شهري ادب، مینه او محبت عام تان خپور و. نه جنګ او نه جګړې وې.
د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه اروپایي او امریکایي ځوانان د هپیي په لار ختیځو هیوادونو ته سفرونه کول. دوی د انفرادي خپلواکۍ، خودارادیت، د معنویت په ارزښتونو کې د ځان بسیایني یا الترنتیف ژوند په لټه کې ول، مخدره توکي هم په لار کې ورته موجودول. اسیا ته د ,, هپیانو افسانوي سفر په مسیر کې ,, په اروپایي ځیرنېزو ادبیاتو او رسنیو کې د (Hippie Trail) په نامه یادیږي. دغه افسانوي لار له ډیرو اسلامي هیوادونو څخه تېریدله. د هپیانو

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

تاريخي لاري په اوږدو کي په استانبول، کابل، ګوا او کټمندو ښارونو کي د ګرځندوي صنعت وده وکړي وه او د ځايي خلکو د اقتصادي ودې لپاره ښه فرصتونه برابر او پرانيستلي شوي وو.
افغانستان د ټولو لويديځوالو سيلانيانو لپاره يو خورا مهم ښکلی پوستکارتي هيواد ګرځيدلي و. که څه هم دغه سفرونه له ډېرو نوري لاري هم ترسره کيدل، خو اروپايي هپيان مخکې تر دې چې هندوستان ته لاړ شي، معمولاً دوی د هرات، کندهار، بامیانو او کابل له ښارونو څخه ليدنې کولې يا تيريدل. په افغانستان کې د سيلانيانو تګ راتګ او د ګرځندوي ګڼه ګوڼه د ګرځندوي صنعت ته وده ورکړي وه. د ځايي خلکو لپاره اقتصادي فرصتونه او کارونه رامنځته شول، د افغان تور سفري دفترونه خلاص شول، د مسافرو د هستوګنې لپاره هوټلونه او رستورانتونه پرانيستل شول، خلکو ته کارو بار او روزګار پيدا شو. د کابل طره بارخان څلور لارې کې د مرغانو کوڅه کې هوټلونه، پلورنځي او بازارونه جوړ شول، د افغاني لاسي صنايعو بازار ګرم شو. افغاني کرانسي باثباته او بيه لوړه شوه. هپيانو افغاني لاسي صنايع، افغاني کالي، افغاني سپينو زرو ګاڼې، لرغونو اثارو او افغاني عالي غالیو صنعت ته وده ورکړه. دوی په بامیانو کې د لرغوني مشهورې بودا مجسمې، د امير بند، د افغانستان له ډيرو مهمو ښارونو او لرغونو ځايونو څخه ليدنې کتنې کولې. افغانستان د دوی لپاره يو سر خلاصي په زړه پورې لرغوني پېښه زره کلن موزيم ګرځيدلي و.
افغانستان د يو نسبتآ باثباته هيواد په توګه د بهرنيو سيلانيانو پرمخ يو ميلمه پال او د ښه راغلاست جنت هيواد بلل کيده. ډېرې سيلانيان تر اوسه افغانستان او د افغانانو ميلمه پالنه په ډيره مينه يادوي. د هپيانو سفرونو نښې نښانې لا تر اوسه د کابل ښار په واټونو او د مرغانو کوڅې په سړک کې موندل کيږي. اوس هم د مرغانو کوڅه د هپيانو ښې ورځې په ياد لري. د مرغانو کوڅې سړک د هنرمندانو، انځور ګرانو او افغاني لاسي صنعايو څخه ډک و. هر چا غوښتل دلته خپل توکي په ښه بيه وپلوري.

د هپيانو سره زما خپله پېژندګلوي

هر څوک خامخا لږ يا ډېر هپيان پېژني، که څوک يې په شخصي توګه نه پېژني، بيا هغه د ورځپاڼو، مجلو او په ټولنيزو خوله رسنيو کې د انځورونو له لارې پېژني.
زه ليکوال د کابل ښار د کوله پشتې په سيمه کې زيږيدلي او را لوی شوي يم. کله چې زه د خپل کور څخه د شير پور په لور د استقلال ليسې ته تللم. زه مجبور وم، خپله د تګ لاره د انصاري څلور لارې، د حاجي يعقوب څلور لارې، د پارک سيمنا او د زينب نندارې په سړک باندې غوره کړم، تر څو خپل ښوونځي ته لاړل شم او د استقلال ليسې څخه بيرته راتګ لاره د طره باز خان څلور لارې او د انصاري په څلور لارې په لور خپل کور ته راتلم. د شهيد داوود خان حکومت ورستي کلونه ول، اټکل تر څوارلس کلنې پورې ما هره ورځ د کابل نوی ښار په سيمه کې، د طره باز خان او د مرغانو کوڅې په سيمه کې ډله ډله نارينه او ښځينه هپيان د يوه بيک سره ليدل. نارينو هپيانو اوږدې ګيرې او اوږده ويښتان لرل، ځينو يې افغاني جامې او څپلې اغوستلې وې، ځينو يې رنګه ستر ستر کميسونه اغوستلي و.
زموږ کور ته هره مياشت ,, پوليس د ټولنې خدمتګار,, په نامه پوليسي مجله راتله. د مجلې په ورستي برخه کې د هپيانو د جرمنو په اړه مالومات خپريدل، کوم چې په ترافيکي، جنايي پېښو او يا د مخدره توکو په قاچاق کې د لاس لرل له امله نيولي شوي وو، په دې اړه جنايي په زړه پورې ليکنې ليکل کيدلې. دغه جنايي ليکنې مې هم لوستلې. ما د کابل په قلعه فتح خان په سيمه کې د عيسويانو يوازيني مړستون,, قبر ګورا,, کې د هپيانو قبرونه ليدلي دي، کوم چې د نارغيو، د جرمي پېښو او د مخدره توکو د ډېر کارولو له امله په افغانستان کې مړه شوي وو. قبر ګورا په کابل کې د عيسويانو يوازينې هديره ده، چې د برتانيې پوځيانو هډېرې په نامه هم يادېږي، کابل کې د برتانې سفارتخانه يې د پالنې مالي لګښتونه پرې کوي. دلته د هپيانو مړو لپاره ځانګړې قبرونه جوړ کړل شوي دي، کوم چې د نارغيو، د جنايي جرمونو او د نشه يې توکو کارولو له امله مړه شوي دي. هپيان په کابل کې هم خاورو ته سپارل شوی دي.
له کلنه چې زه په جرمني کې ژوند کوم، په دې څو لسيزو کې ما د يو شمير پخوانيو هيپيانو سره چې ځينې په جرمني کې د پوهنتون استادان ول، په سيکالوجي روغتون کې لوړ پوړي مسلکي د عقلي او عصبي ډاکټران او اروا پوهنزه ماهيران او د رواني ناروغيو متخصصان ول، پېژندګلوي پيدا شوه. موږ د هيپيزم فلسفي، ايډيالونو، د غورځنګ د مبارزې موخې او د هپيانو د سفرونو د کولتوري او لرغون پېژندنې ارزښتونو په اړه هر ډېرې اړخيزې خبرې اترې ترسره کړي.
په روغتون کې زما مشر يو اروا پوهه جرمن همکار چې پخوا خپله يو هيپي سيلانی و. هغه څو ځلې افغانستان او اسيايي هيوادونو ته په سفر تللی و. موږ د نورو موضوعګانو سربيره د افغانستان او افغانانو کولتور، تاريخ، دود دستور او کړو وړو په اړه د اروا پوهنې له اړخه مفصلې خبرې اترې کړي. دغې جرمن اروا پوه ما ته وويل. ,, ما په خپل ژوند کې ډېر سفرونه کړي دي. د شمالي افريقا، سويلي اسيا همداسې تر ايران او تورکيې پورې سفرونه کړي دي. کله چې زه په لومړي ځل د ايران له پولې د افغانستان هرات او کندهار ولايتونو ته داخل شوم، ظاهراً ما په خپل لومړني ليد کې داسې احساس وکړ، چې افغانستان د نورو هيوادونو په څير يو نارمال هيواد نه دی، کوم چې ما ليدلي دي، ځکه دلته جګ جګ درانه درانه سړي د سترو سترو لونګيو سره ګرځيدل، دوی ستر ستر افغاني کالي

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

اغوستلي وو. هر مازديګري دوی دوه وده يا دري دري کسان چې لاسونه به تر شاه نيولي وو، په ورو ورو په ډير درنښت او ادب سره د يو بل سره د خبرو په حال کې روان ليدل کيدل. دوی د سړک په غاړه نورمال روان ليدل کيدل. جرمن سيلاني بيا وويل، چې ما ته سمدستي پته ولګيده او داسي راته وبريښيده، چې افغانان ډير درانه او ويارمن غلي خلک دي. هغه بيا وويل، چې ما ته څو ځلي په هرات او کندهار کې افغانانو د چرسو يو يو تلي مفت راکړ. زه حيران وم، چې ولي دوی زما څخه د پيسو غوښتنه ونه کړه. کله چې مورِ له ښاره کليوالي سېمو ته په سفر ولاړو، هلته مورِ ډير بې وزلي کليوال خلک وليدل، ډيرې افغانان به زمورِ خوا ته د ليدلو لپاره راتلل، دوی زمورِ څخه څو متره ليرې دريدل يا کيناستل او زمورِ تماشا به يې کوله، چې دا پردي خلک څوک دي چې دلته راغلي دي. دوی يوازې زمورِ ننداره کوله. دغو غريبو بې وزلو خلکو او تنکيو ماشومانو هېڅکله زمورِ څخه د خيرات يا پيسې غوښتلو لپاره لاس اوږد نه کړ، داسې مالوميدل چې سوال کولو غوښتنه اصلاً دوی زده نه وه او ګدايي نه کوله. په داسي حال کې چې داسي غوښتنې زمورِ څخه د شمالي افريقې او سويلي اسيا په هيوادونو کې په لومړي دقيقه کې خامخا کيدلې او مورِ به خلکو هلته ځښتې ډير په تنګولو. خو په بې وزلو افغانانو کې دومره غرو، ميلمه پالنه او ادب موجود و. اصلاً غريبو، بې وزلي افغانان په خيرات غوښتلو باندې عادت نه ول،،.

د لومړی برخې پای

که څوک له دې موضوع سره نوره ليوالتيا لري، بيا دغه لاندې د يوټوب ويډيوګاني د کتلو او ليدلو وړ دي.
https://youtu.be/M0cFKEKk06I?si=DRvvki2FN4cuOVeQ
https://youtu.be/b4q2Wb2PB7Y?si=HPOR08yTTiJQ1YED

د ليکوال: آرشيف

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له مورِ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ